د عبدالباري جهاني ترجمه ۲۰۱۹/۰۱/۰۵
لیو تولستوی:

# سړئ څومره مځکي ته ضرورت لري؟

یوه مشره خور، په کلي کي، د خپلي کشري خور لیدلو ته ورغله. د مشري خور مېړه، په ښار کي، یو کسبګر وو او کشره خور، په کلي کي، د یوه دهقان مېرمن وه. کله چي خویندي چایو ته سره کښېنستلي نو مشري خور د خپل ښاري ژوند لاپي پیل کړی چي هلته څومره هوسا ژوندی لري، څومره ښي جامي اغوندي، ماشومان یي څومره ښي جامي لري، څومره ښه خوري او چښي؛ او کله کله تیاترونو ته ځي، چکرونه وهي او راز راز نور ساتیري لري.

کشري خور یي هم په خبرو بنا وکړه؛ په ښار کي یي د یوه کسبګر د ژوند ستونزي بیان کړې او په عوض کي یي د کلي د ژوند ښېګڼي یادي کړې.

دي ویل زه به خپل ژوند ستاسي پر ژوند ورنه کړم. موږ به ښایي سخت ژوند لرو، مګر لږترلږه له اندېښنو څخه فارغ یو. ستاسي د ژوند رازو باز به تر موږ بهتر وي، مګر سره له هغه چي تاسي به تر خپل ضرورت زیاتي پیسي ګټئ، خو کله داسي هم پېښېږي چي ټولي پیسي یو دم له لاسه ورکړئ. تا خو هغه متل اورېدلی دی چي وایي ګټه او تاوان سره خور او ورورډی. داسي خو ډېر پېښېږي چي یو څوک یوه ورځ شته من وي او سبا ګدایي کوي. که څه هم چي د دهقان ژوند به ډېر آرام نه وي مګر بېغمه وي. موږ ښایي هیڅ وخت دولتمند نه سو مګر هر وخت به دونه لرو چي په ماړه سو.

مشري خور یوه له ریشخنده ډکه موسکا وکړه او کشري خور ته یي وویل چي بلي په نس به مړه یي؛ مګر ډوډی به له څارویو سره خوری. تا ته د ښاري ژوند د آدابو مزه څه معلومه ده؟ ستا مېړه به په خواریو پښي او لاسونه تناکي کړي مګر ته به د څارویو د خوشایو پر کوټه مړه سي او ماشومان به دي هم تر تا بهتر نه وي.

کشري خور یي ورته وویل ښه نو دا څه خبره ده. دا خبره درسته ده چي موږ سخت ژوند لرو؛ مګر خو زړونه مو بېغمه دي او بل چا ته سر نه ټیټوو. خو تاسي په خپلو ښارونو کي د هوس او وسوسو په جال کي ګیر یاست. نن به ټوله شیان سم او پر لار وي خو سبا به ګورې چي مېړه دي په قمار او شرابو اخته سوی دی او یا یي له نورو ښځو سره لار جوړه کړې ده او ګورې به چي هر څه تباه سوي دي. یعني دغه ډول کیسي هره ورځ نه پېښېږي؟

د کور څښتن، پاهوم، د تاو خاني پر سر پروت وو او د ښځو خبرو او بحثونو ته یي غوږ نیولی وو. ده له ځان سره ویل دا خو بالکل درسته ده چي موږ له ماشومتوبه تر دغه ګړیه پوري له سهاره تر ماښامه لګیاو او مځکه یوی کوو. موږ دهقانان د چټي شیانو په باره کي د فکرکولو وخت نه لرو. زموږ یوازیني ستونزه دا ده چي موږ کافي مځکه نه لرو. که مي ډېره مځکه درلودلای نو له شیطان څخه هم نه دارېدم.

ښځو چايي ختمي کړې. یو ګړی یي لا د لباسونو په باره کي یو څه خبري سره وکړې؛ وروسته یي د چایو لوښي ګوښه کړل او دواړي ویدې سوې.

مګر شیطان د تاوخاني شاته ناست وو او ټولي خبري یي واورېدلې. دی په دې خوشاله وو چي د دهقان مېرمني خپل مېړه باټولی وو او هغه ویلي وه چي که یي ډېره مځکه درلودلای نو بیا له شیطان څخه هم نه وېرېدی.

شیطان ویل ډېره سمه خبره ده. زه او ته به یي سره معلومه کړو. زه به تاته ښه ډېره مځکه درکړم او د هغي مځکي په وسیله به تا تر خپل لاس لاندي کړم.

۲

کلي ته نیژدې یوې مېرمني ژوند کاوه. ډېره مځکه یي نه وه خو تقریباً شپږ سوه جریبه مځکه یي درلوده. دې ښځي له دهقانانو سره هر وخت ښه ګوزاره کړې وه، تر څو چي یو زوړ عسکر یي خپل ناظر مقرر کړ او هغه به هر وخت دهقانان جریمه کول. پاهوم چي هر څونه کوښښ وکړ بیا به یوه ورځ د هغه آس د مېرمني په اوربشو ګډ سوی وو، بله ورځ به یي غوا د هغي باغ ته ننوتلي او خرابي به یي کړې وه او یوه بله ورځ به یي خوسکیان په چمنونو ورګډ سوي ول او دهقان به هره ورځ مجبور ووچي جریمه تحویل کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

پاهوم به جريمې تحويلولي مګر غړومبی به يې کاوه او چي کور ته به ولاړ نو له کورنۍ سره به يې اوقات تريخ وو. په کلي کي د مځکي د څښتني د دې ناظر د لاسه، پاهوم ټول اوړی په ستونزو تېر کړ. او چي ژمی سو او څاروي به په طويله کي دننه ول نو پاهوم يو څه بېغمه سو. پاهوم که څه هم چي له دې امله خواشينی وو چي څاروي يې په واښو کي نه څرېدل مګر لږ ترلږه يې د هغوی له خوا زړه پر کراره وو.
په ژمي کي آوازه سوه چي هغه مېرمن خپله مځکه خرڅوي او د سړک پر غاړه د کاروان سرای ساتونکی غواړي چي دا مځکه واخلي. کله چي دهقانانو دا واورېدل نو ټول اندېښمن سول. دوی ويل چي که د کاروانسرای ساتونکی دا مځکه واخلي نو د مځکي د څښتني تر ناظر به يې لا اوقات ورتريخ کړي او له سهاره تر ماښامه به جريمې رواني وي، او زموږ ټول کار روزګار په همدغه مځکه پوري تړلی دی.
دهقانان د خپل کمون له خوا د مځکي څښتني ته ورغلل او له هغې څخه يې وغوښتل چي دا مځکه د کاروانسرای پر ساتونکي باندي خرڅه نه کړي، او دوی به هغې ته يو څه زياتي پيسې ورکړي. دوی پر دې موضوع باندي دوه ځله غونډي سره وکړې مګر کومي جوړي ته ونه رسېدل. شيطان يې په منځ کي اختلاف واچاوه او دوی تر پايه سره جوړ نه سول. بالاخره دوی سره ومنله چي په مځکه کي دي هر يو د خپل وس په اندازه يوه حصه واخلي او بيه دي پوره کړي. د مځکي څښتني هم د دهقانانو خبره ومنله.
پاهوم خبر سو چي د ده يو ګاونډی د بنځي څخه سل جريبه مځکه اخلي؛ نيمايي پيسې يې نغدي ورکوي او نيمايي يې يو کال وروسته ادا کوي. د پاهوم سخت کست په وسو. له ځان سره يې وويل چي ته دا وګوره، مځکه به ټوله خرڅه سي او زه به هيڅ برخه نه پکښې لرم. پاهوم له خپلي مېرمني سره خبري وکړې، او ورته وې ويل چي نور خلک مځکه اخلي نو موږ هم بايد شلوېښت جريبه واخلو. زموږ لپاره ژوند داسي سختېږي چي د تېرولو به نه وي. دا ناظر به په ډېرو جريمو موږ له خپله ژونده بېزاره کړي.
دوی د مځکي د اخيستلو لپاره د پيسو د برابرولو پر لارو چارو باندي ښې ډېري خبري سره وکړې. دوی سل روبله ذخيره درلودل. يو کورنګی يې خرڅ کړ او خپلي نيمايي مچمچی يې وپلورلې. خپل يو زوی يې مزدور کړ او د هغه مزدوري يې پېشکي واخيستله؛ باقي پاته پيسې يې له خپل اخښي څخه پور کړې او د مځکي د اخيستلو لپاره يې نيمايي پيسې برابري کړې.
پاهوم په دې توګه اتيا جريبه مځکه واخيستله. د مځکي يوه برخه ځنګل وو. د هغې برخي پر سربېره د مځکي له څښتني سره جلا جوړه وکړه او پيسې يې ورکړې. دوی ښارته سره ولاړل هلته يې قواله سره لاسليک کړه. نيمايي پيسې يې ورکړې او په دوو کالو کي يې د باقي پاته پيسو ورکولو ذمه ووهله.
اوس نو پاهوم د خپلي مځکي څښتن سو. تخم يې رانيوی او په رانيولې مځکه کي يې کښت وکړ. ډېر ښه حاصل يې واخيست او په يوه کال کي يې هم د ښځي او هم د خپل اخښي پور ادا کړ. د مځکي مالک سو. په خپله مځکه کي يې کښت کاوه، په خپله مځکه کي يې پروړ جوړول، خپلي وني يې وهلې او په خپله مځکه کي يې خپل څاروي مړول. کله چي به د خپلي کروندې د يوي کولو لپاره مځکو ته ولاړ، يا به يې خپلو جوارو ته، چي رسېدلي به وه، وکتل او يا به يې خپلو شنو کښتونو ته سترګي واړولې نو زړه به يې باغ باغ سو. ده چي به کله په خپله مځکه کي يا شنو وښو او يا غوړېدلو ګلانو ته وکتل نو داسي فکر به يې کاوه چي يوازې د ده کرونده ده چي دومره ښکلې ښکاري. پخوا چي به دی له دې مځکي سره تېرېدی نو د نورو کروندو په څېر به ورته ښکارېدله؛ مګر اوس يې منظرې بالکل تغيير کړی وو.
۳
پاهوم ډېر خوشاله وو؛ او که ګاونډيو دهقانانو د ده د جوارو پر کرونده او شنو کښتونو باندي تېری نه کولای نو هرڅه به پر لار وو. ده له هغوی سره ډېر نرم سلوک کاوه مګر هغوی له خپله عمله لاس وانه خيست. نن به د کمون ګورووانانو د ده په شنو کښتونو کي غواوي خوشي کړي وې. کله به يې په جوارو کي آسونه ورته خوشي کړي ول. پاهوم به هغوی له خپلو کښتونو څخه پسي واخيستل او مالکانو ته به يې هيڅ ونه ويل او ښه ډېر وخت يې د هغوی له لاسه سرکار ته هيڅ شکايت ونه کړ. مګر په پای کي يې د صبر کاسه ډکه سوه او د اولسوالی محکمې ته يې شکايت وکړ. دی په دې پوهېدی چي دهقانان له ده سره کومه خاصه دښمني نه لري، بلکه مځکي نه لري او بله لاره ورته پاته نه ده مګر ده له ځانه سره فيصله وکړه چي که نور هم صبر ورته وکړي هغوی به د ده کښت او کرونده تباه کړي. نو دوی ته بايد يو درس ورکړه سي.
بالاخره يې دهقانانو ته په سزا ورکولو بنا وکړه. يو، دوه ، درې يې جريمه کړل. يو څه وخت وروسته د پاهوم ګاونډيانو هم له ده سره دښمني را واخيسته او کله نا کله به يې په لوی لاس خپل څاوري د ده په شنو کښتونو کي ورخوشي کړل. يوه دهقان خو يوه شپه د ده په ځنګله کي پنځه د ليمو وني د سون د بوټو لپاره وهلي وې. پاهوم يوه ورځ وليدل چي وني يې وهل سوي دي، او سخت په غوسه سو. له ځان سره يې وويل چي که يې دلته هلته يوه يوه ونه وهلې وای، البته کافي تاوان به يې رسولی وای. خو دې نامرده يوه بشپړه تخته وني وهلي دي؛ نو زه به هم ورسره جوړ سم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له ځان سره يې سوچ وکړ چې دا به د چا کار وي. بالاخره دې نتيجې ته ورسېدی چې دا له سيمون څخه پرته د بل چا کار نه دی. پاهوم د سيمون د کور شاوخوا ودانی وکتلې مګر هلته يې هيڅ نخښنه پيدا نه کړه او ډک زړه ورڅخه روان سو. پاهوم پوره يقين درلود چې دا د سيمون کار دی او محکمې ته يې شکايت وکړ. سيمون محاکمه سو مګر څرنګه چې پر ضد يې هيڅ شواهد موجود نه وه خوشې سو. پاهوم نور هم خپه سو او اولسوال او قاضيانو ته يې په بد رد ويلو پيل وکړ.
ده هغوی ته ويل چې تاسې رشوت خواره ياست. که تاسې رېښتوني کسان وای نو څرنګه به مو يو غل پرېښودلای چې آزاد وګرځي.
پاهوم له قاضيانو او ګاونډيانو سره جنګ وکړ. ګاونډيان دونه ورته په غوسه سول چې د کور د سوځولو ګواښ يې ورته وکړ. که څه هم چې پاهوم تر نورو ډېره ځمکه درلوده مګر اعتبار يې په خپله سيمه کې تر پخوا کم سو.
په دغه وخت کې آوازه سوه چې ډېر زيات خلک نويو سيمو ته خوځېږي.
پاهوم فکر وکړ چې دې ته ضرورت نسته چې زه خپله ځمکه خوشې کړم. مګر کله چې زموږ له کلي څخه نور کسان بار سي ځمکې به يې ماته راپاته سي. زه به د هغوی ځمکې واخلم او خپل جايداد به نور هم پسې پراخ کړم. په هغه صورت کې به زه نور هم په استراحت سم. څکه دغه ګړی کار ډېر کوم مګر په هغه اندازه هوسا نه يم.
يوه ورځ پاهوم په کور کې ناست وو چې يو دهقان يې کلي ته ورغی؛ د پاهوم دروازه يې وټکوله او پر هغه باندي د شپې مېلمه سو. پاهوم ډوډی ورکړه او د شپې ورسره پاته سو. پاهوم له دهقان څخه پوښتنه وکړه چې له کومه ځايه راځي. هغه ورته وويل چې د وولګا د سيند پر هغې بلې غاړې باندې ژوند کوم. په يوه خبره پسې بله راغله او سړي وويل چې نن سبا ډېر زيات خلک هغې سيمې ته ور روان دي. ده پاهوم ته وويل چې د دغه کلي ځيني خلک اوس هغې سيمې ته نقل سوي دي. دا خلک هلته له کمون سره يو ځای سوي دي او سړي سر يې پنځوس جريبه ځمکه ترلاسه کړې ده. ده وويل هغه ځمکې داسې حاصلات کوي چې د تورو غنمو وږي يې د آس تر قد لوړ وي. او داسې پنډې ترکې يې دي چې پنځه داني يې يوه کوده جوړوي. ده وويل چې يو دهقان په تش لاس هغې سيمې ته راغی او اوس شپږ آسونه او دوې غواوې لري.
پاهوم چې دا خبرې اورېدلې په زړه کې يې د شوق اور بل سو.
له ځان سره يې فکر وکړ چې که په بل ځای کې تر دې بهتره ژوند کولای سم نو زه ولې په دې واړه غار کې زحمتونه ګالم. زه به خپله ځمکه او جايداد خرڅ کړم او په هغه سيمه کې به په خپلو پيسو له سره نوی ژوند پيل کړم. په دې ګڼه ګوڼه کې هره ورځ له يوې نوې ستونزې سره مخامخ يم. مګر زه بايد لومړی يوازې ولاړ سم او احوال معلوم کړم.
پاهوم د اوړي په شپو ورځو کې ځان تيار کړ. د بخار په يوه کښتۍ کې تر سامارا پورې ولاړ او بيا يې نو درې سوه ميله پياده مزل وکړ، او بالاخره هغه ځای ته ورسېدی. دا رېښتيا هم داسې ځای وو لکه هغه دهقان چې کيسه ورته کړې وه. دهقانانو ډېرې زياتې ځمکې درلودلې. هر دهقان له کمون څخه پنځوس جريبه ځمکه اخيستې وه او هر چا پيسې لرلې هغه کولای سوای چې نوره ځمکه هم واخلي. دوه جريبه ځمکه يې په پنځوس سينټه ورکوله او نور نو چې زړه دې غوښت هغونه ځمکه دې اخيستلای سوای.
کله چې پاهوم په ټولو شيانو ځان ښه خبر کړ نو د مني په موسم کې يې بېرته خپل کور ته حرکت وکړ او په کلي کې يې د خپلو شيانو په پلورلو پيل وکړ. خپله ځمکه يې په ګټه خرڅه کړه، ودانۍ او څاروي يې خرڅ کړل او د کمون له غړيتوب څخه ووت. تر پسرلي پورې يې انتظار وايست او د خپلې کورنۍ سره نوې سيمې ته وخوځېدی.
۴
کله چې پاهوم او د ده کورنۍ نوي ځای ته ورسېدل نو سمدستي يې د يوه لوی کلي د کمون د غړيتوب لپاره درخواست وکړ. مامورينو ډېر ښه سلوک ورسره وکړ او ډېر ژر يې لازم اسناد ترلاسه کړل. کمون د پنځو تنو لپاره ځمکې ورکړې. په دې حساب د ده او د ده د زامنو برخه ۲۵۰ جريبه سوه. دا ځمکې هم په يوه ځای کې نه بلکه په بېلو بېلو ځايونو کې. د دې ځمکو ترڅنګ يې د کمون له څرځايونو څخه جلا ګټه اخيستله. پاهوم په ځمکو کې ودانۍ جوړې کړې او څاروي يې واخيستل. يوازې يې د کمون له ځمکې څخه دونه حاصلات ترلاسه کول چې د خپل پخواني کلي درې چنده يې کېدل او ځمکه د جوارو د کښت لپاره ډېره ښه وه. ژوند يې تر خپل پخواني کلي لس چنده بهتر سو. د کښت او کروندې لپاره يې ډېرې پراخې ځمکې او څرځايونه درلودل او چې زړه يې غوښت په هغه اندازه څاروي يې ساتلای سوای.
پاهوم په لومړيو شپو ورځو کې د ودانيو په جوړولو او د کښت او کروندې په سمبالولو لګيا وو، نو ډېر خوشحاله وو. مګر کله چې يې د نوي چاپېريال سره يو څه عادت ونيوی نو په دې فکر کې سو چې دا ځمکه کفايت نه ورته کوي. په لومړي کال يې په هغه ځمکه کې چې د کمون څخه يې تر لاسه کړې وه غنم وکرل او ښه حاصل يې واخيست. ده غوښتل چې بل کال بيا هم غنم وکري، مګر د کمون په هغه ځمکه کې چې ده ته په حق رسېدلې وه د غنمو د بيا کرلو امکان نه وو. څکه چې غنم په تازه ځمکه او يا په داسې ځمکه کې چې دوه کاله کښت نه وي پکښې سوی کرل کېږي. ډېرو خلکو دغه راز ځمکې غوښتلې مګر د ټولو لپاره ځمکه نه وه او د خلکو ترمنځ به د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

مځکو پرسر دعوې دنګلې وې. شته منو خلکو د غنمو د کښت لپاره مځکې غوښتلې او نېستمنو کسانو به خپلې مځکې په اجاره ورکولې او په پیسو یې د سرکار د مالیاتو غاړه ایستله. پاهوم غوښتل چې نور غنم وکري نو د یوه کال لپاره یې مځکې په اجاره واخیستلې. ده زیات غنم وکرل او ښه حاصل یې واخیست. مګر دا مځکه له کلي څخه ډېره لیرې وه، او غنم باید څه باندې لس میله انتقال سوې وای. پاهوم وروسته متوجه سو چې ځینې دهقانان په ښېلو ښېلو ځایونو کې مځکې کري او شته من کیږي.نو ده فکر وکړ چې د کمون څخه دباندې آزادې مځکې واخلې او ودانۍ ورباندې جوړې کړي. دا به نو بالکل جلا ژوند وي، ډېر به مزه داره او هر څه به سره نیژدې وي. ده د مځکو د قطعي رانیولو په باب ځو ځو ځله فکر وکړ.
ده په دې توګه درې کاله داسې ګوزاره وکړه چې مځکې به یې اجاره کولې او غنم به یې پکښې کرل. هر کال به موسم تر هغه بل ښه وو او پاهوم ښې پیسې جمع کړې. ده ښایي په دغه توګه ښې ګټې کړې وای مګر هر کال د نورو خلکو د مځکو اجاره کولو او د اجارې په مځکو پسې تلاښ کولو ستړی کړ. هر ځای چې به یوه ښه مځکه پیدا سوه دهقانانو به هجوم ور ووړ او ډېره ژر به له لاسه ووتله؛ نو که سړي ډېره چالاکي کړې نه وای مځکه یې لاسته نه سوای راوړلای. په دریم کال داسې پېښه سوه چې ده او یوه دلال له ځو دهقانانو څخه د څړ داسې مځکه اجاره کړه چې هغوی د وخته یوې کړې وه. کله چې د دوی تر منځ جنجال راپورته سو او دهقانان محکمې ته ولاړل نو فیصله د هغوی په ګټه وسوه او د دوی خواري عبث سوه. پاهوم فکر وکړ چې که دا دده خپله مځکه وای نو داسې به نه پېښېدله او دا دونه خواشیني به نه ورباندې تېرېدلای.
نو پاهوم، د خپله وسه سره سم، د مځکې په رانیولو پسې تلاښ پیل کړ. په دې لړ کې پر یوه دهقان پېښ سو چې دوه زره شپږ سوه جریبه مځکه یې اخیستې وه مګر ستونزې یې ورسره پیدا کړې وې او غوښتل یې چې په ارزانه بیه یې بیرته وپلوري. پاهوم له هغه سره خبري وکړې، پر مځکه یې ښې چنې ورسره ووهلې او په پای کې یې پر پنځه لس سوه روبله جوړه سره وکړه؛ د دې پیسو یوه برخه یې نغدې ورکولې او نورې به یې وروسته ادا کولې. دوی نیژدې خبره سره خلاصه کړې وه چې، له قسمته، د پاهوم پر کور، د مځکو یو دلال برابر سو، چې د آس لپاره یې اوربشو ته ضرورت درلود. دوی چای سره چښلې؛ چې د مځکو خبري یادې سوې. دلال وویل چې هغه تازه د باشکیرانو( زیاتره، د روسیې په جنوب او جنوب ختیځو سیمو کې، په کیړدیو کې، اوسېدونکي، تُرکي نژاده خلک ول ج) له سیمې څخه، چې ښه لیرې پرته ده، راغلی دی او ده هلته شپږویشت زره جریبه مځکه یوازې په زر روبله ترلاسه کړه. پاهوم له دلال څخه نورې پوښتنې هم وکړې او هغه ښې غوړې خبري ورته وکړې. دلال وویل چې د باشکیر له مشرانو سره اشنایي واچوې نو هر څه دې خپل دي. ما د سلو روبلو په ارزښت چپنې او قالینې او یو څه چای، او هغو کسانو ته چې شراب یې چښل یو څه واین ورکړل او په څه کم دوه سینټه مې دوه جریبه مځکه ترلاسه کړه. دلال پاهوم ته د مځکې قواله وښودله او په هغې کې لیکلې وه چې مځکه د سیند له څنګه پرته ده او هیڅ کښت کرونده نه ده پکښې سوې. پاهوم نورې پوښتنې هم ورڅخه وکړې او هغه ورته وویل:
هلته نورې دونه مځکې دي چې یو کال پیاده پکښې ګرځې نه یې سې ختمولای. دا ټولې مځکې د باشکیر د خلکو دي. خلک یې داسې ساده ګان دي لکه پسونه؛ او مځکې دونه ارزانه دي چې ته وا وړیا مې واخیستلې.
پاهوم سوچ وکړ چې زه ولې په زر روبله یوازې شپږویشت سوه جریبه مځکه واخلم؛ او لا ځان تر پورونو هم لاندې کړم. که زه داپیسې په هغه سیمه کې ولګوم څه باندې لس چنده مځکه به تر لاسه کړم.
۵
پاهوم له زمیندار څخه د لارې ګودر پوښتنه وکړه او کله چې هغه معلومات ورکړل نو ده پخپله د باشکیر سیمې ته د تللو تیاری وکړ. جایداد یې خپلې مېرمنې ته پرېښود او له یوه نوکر سره روان سو. دوی، په لاره کې، په یوه ښارګوټې کې تم سول، او لکه څرنګه چې دلال یا زمیندار مشوره ورکړې وه، چای، واین او ځینې نور سوغاتونه یې واخیستل. دوی څه باندې درې سوه میله سفر وکړ او په اوومه ورځ یې ځانونه هغې سیمې ته، چې باشکیرانو کیږدۍ پکښې وهلې وې، ورسول. دا ریشتیا هم هغسې مځکې وې لکه هغه دلال چې یې ده ته تعریف کړی وو. خلکو د رود پر غاړه په شنو مځکو کې، د کراستو په خېمو کې، ژوند کاوه. دوی نه یوې کوله او نه یې غنمینه ډوډۍ خوړله. آسونه یې په شنو ځمکو کې خوشي کړي وه او پکښې څرېدل. کورنګیان د خېمو شاته تړلې وه او مادیانې به په ورځ کې دوه ځله ورتللې. مادیانې یې لوشلې، شیدې به یې چښلې او پنیرونه به یې ورڅخه جوړول. نارینه وو یې شیرچای چښلې، غوښې یې خوړلې، تولکې یې وهلې او نور یې نو هیڅ نه کول. ټول په ځانونو ښه غښتلي او ښه خوشاله ول او ټول اوړی یې د هیڅ ډول کار په باره کې فکر قدر هم نه کاوه. دوی ډېر بېخبره وه، روسي ژبه یې هیڅ نه وه زده؛ مګر ډېر ښه او مهربانه خلک ول.
کله چې دوی پاهوم ولیدی نو سمدستي ورباندې راټول سول. یو ترجمان یې پیدا کړ او پاهوم دوی ته وویل چې د یو څه مځکې په اخیستلو پسې راغلی دی. باشکیران ډېر خوشاله ښکارېدل؛ پاهوم یې یوې تر ټولو ښې خېمې ته بوت؛ هلته یې پر قالینه باندې پرتو بالښتانو باندې تکیه وکړه او نور باشکیران شاوخوا ورباندې را وګرځېدل. چای او پنیر یې ورته راوړل. یو پسه یې ورته حلال کړ، او د پسه د غوښو غورمه یې ور پخه کړه. پاهوم له خپلې ګاډۍ څخه سوغاتونه را وایستل او پر باشکیرانو یې وویشل؛ ټولو ته یې د چایو بستې ورکړې، او باشکیران ډېر خوشاله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سول. دوی په خپلو کي ښې ډېرې خبرې سره وکړې او بيا يې نو ترجمان ته وويل چې د دوی خبرې ورته ترجمه کړي.

ترجمان ورته وويل چې دوی غواړي تاته ووايي چې ستا په ليدلو ډېر خوشاله سوي دي. دوی وايی دا زموږ رواج دی چې موږ د خپل مېلمه د خوشالولو لپاره خپل ټول وس کوو او د هغه د سوغاتونو بدل ورکوو. تا موږته سوغاتونه راوړي دي. اوس نو راته ووايه چې زموږ په شته مني کي په څشي ډېر خوشاله کېږې چې موږ هغه تاته درکړو.

پاهوم په جواب کي ورته وويل چې زما ستاسي ځمکي ښېخي ډېري خوښي سوې؛ زموږ پر ځمکو باندي ګڼه ګونه زياته وي ؛ ډېر زيات کښت وربانديي کېږي، او د ځمکو زور وخېژي. مګر تاسي ډېري پراخي ځمکي او اورشوګاني لرئ چې ما په ژوند کي دومره ښې ځمکي نه دي ليدلي.

ترجمان دا خبري ترجمه کړې. باشکيرانو يو ګړی په خپلو کي خبري سره وکړې. پاهوم نه پوهېدی چې دوی څه وايي؛ مګر دونه پوه سو چې دوی ډېر زيات خوشاله ول؛ په لوړ آواز يې خبري کولې او خندل يې. وروسته کرار سول او پاهوم ته يې وکتل او ترجمان پاهوم ته د هغوی خبري داسي ترجمه کړې.

دوی زما څه غواړي چي تاته ووايم چي موږ به ستا د سوغاتونو په بدل کي هرڅومره ځمکه چي ته غواړې درکړو. بس ته يې په لاس را وښيه نور ځمکه ستا سوه.

باشکيرانو يو ځل بيا خبري سره وکړې. پاهوم پوښتنه وکړه چي د دوی اختلاف پر څشي دی او ترجمان ورته وويل چي ځيني وايي دوی بايد د ځمکي په باره کي له خپل مشر سره وږغيږي او پر خپل سر کار ونه کړي، او نور وايي چي د مشر را ستنېدلو ته بايد منتظر نه سو او له هغه سره سلامشورې ته هيڅ اړتيا نسته.

۶

باشکيران لا په خپلو کي په خبرو ليګا ول چي له ليري يو سړی، چي د ګيدړي د پوست يوه لويه خولۍ يې پر سر وه، رابنکاره سو. دوی ټول چوپ سول او ودرېدل. ترجمان وويل چي دا پخپله زموږ مشر دی.

پاهوم سمدستي، هغه تر ټولو قېمتي چپنه او پنځه پونډه چای هغه ته په سوغات کي ورکړې. مشر سوغات ومانه او د عزت په ځای کي کښېناستی. باشکيرانو سمدستي هغه ته يو څه وويل. مشر يوه شېبه غوږ نيولی وو او بيا يې نو دوی ته د سر په اشاره وويل چي ټول چوپ سي؛ او پخپله يې په روسي ژبه پاهوم ته وويل:

بس همداسي به وکړو. هر څومره ځمکه چي غواړې هغه خوښه کړه. موږ ډېري ځمکي لرو.

پاهوم له ځان سره فکر وکړ چي زه څونه ځمکه اخيستلای سم. زه بايد د معاملې د ښه تضمين لپاره يوه قواله ولرم. کنه نو دوی به نن ځمکه راکړي او سبا به وايي چي دا ستا نه ده.

ده په ډېر لوړ آواز وويل چي ستا له مهربانيه ډکو خبرو څخه مننه. تاسي ډېري ځمکي لرئ او زه يوازي لږه ځمکه غواړم. مګر زه غواړم په دې پوه سم چي کومه ځمکه زما ده. دا به بهتره وي چي زما حصه را معلومه کړی. ځکه چي مرګ او ژوند د خدای په لاس دی؛ او ژوند په اعتبار نه دی. تاسي خو ښه خلک ياست. تاسي به يوه ټوټه ځمکه راکړی خو ستاسي ماشومان به وربانديي پښېمانه سي.

مشر ورته وويل چي ستا خبره بالکل سمه ده. موږ به يې تاته در وسپارو.

پاهوم وويل ما اورېدلي دي چي دلته د ځمکو يو خريدار راغلی وو. او تاسي هغه ته هم يو څه ځمکه ورکړې وه او هغه ستاسي سره قواله لاسليک کړې وه. زه غواړم چي د ځمکي موضوع په هغه ډول فيصله سي.

مشر پوه سو او ورته وې ويل چي بلې په ډېره اساني به يې درسره فيصله کړو. موږ کاتب لرو. هغه به ښار ته درسره ولاړ سي او قواله به درسره لاسليک کړي.

پاهوم پوښتنه وکړه چي د ځمکي بيه به څومره وي؟

زموږ بيه هر وخت يوه ده. په ورځ کي زر روبله.

پاهوم پوه نه سو.

يوه ورځ؟ دا څرنګه اندازه ده؟ دا به څو جريبه وي؟

مشر ويل موږ يې په اندازه نه پوهېږو. موږ يې د ورځې په اندازه خرڅوو. ته موږ ته زر روبله راکړه او پر پښو روان سه. هر څومره مزل چي دي په يوه ورځ کي وکړ، هغه ځمکه ستا ده.

پاهوم هک پک سو.

ده ورته وويل چي په يوه ورځ کي خو سړی تر ډېره ځايه پوري تللای سي.

مشر وخندل اوويل يې بس هغه ځمکه به ستاوي. خو که له هغه ځايه څخه چي مزل دي پيل کړی وي، د لمر تر لوېدلو پوري، راستون نه سوې نو پيسې دي بايلودلې.

مګر نو زه به دا خپل کړی مزل په څشي معلوموم؟

دا اسانه خبره ده. هر ځای چي ستا خوښ دی موږ ستا سره هلته ځو او ستا تر راتلو پوري به درته منتظر يو. ستا سره به يو بېل درسره وي او هر ځای چي دي خوښ سو هغه ځای به نښاني کړې. پر هر ځای چي ګرځېدلې هلته به يو غار کينې او ډېري به وربانديي ايږدې. بيا به نو له يوه غار څخه تر بل پوري په ځمکه کي يو خط کشوې. هر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

څونه چي دي خوښه وي هغومره ګرځېدلای سي خو له لمرلوېدو څخه مخکي به بيرته هغه ځای ته چي مزل دي ورڅخه پيل کړی دي را ستنېږي. هر څونه مزل چي دي کړی وي هغه ټوله مځکه ستا ده.
پاهوم ډېر خوشاله سو. فيصله پر دې وسوه چي دا کار به سبا سهار وختي پيل کوي. دوی يو ګړی خبري سره وکړې. يو څه پنير يې وخوړ، يو څه غوښې يې وخوړلې، چای يې وچښلي او نور نو شپه سوه. دوی پاهوم ته، د خوب لپاره،له بنکو څخه جوړ سوی بستر ورکړ او باشکيران سره تيت سول. دوی ژمنه وکړه چي سبا سهار وختي به پاڅېږي او تر لمرخاته مخکي به ځانونه ټاکلي ځای ته رسوي.
۷
پاهوم د بنکو څخه جوړ سوي بستر باندي وغځېدی مګر خوب يې ونه کړ. کړی شپه يې له ځان سره دا سوچونه کول چي دا به څونه پراخه مځکه وي چي دی به يې نښاني کړي. زه په يوه ورځ کي، په ډېره اسانی سره، پنځه دېرش ميله مزل کولای سم. اوس خو ورځې هم ډېري اوږدي دي. او د پنځه دېرشو ميلو په منځ کي خو ډېره مځکه ځايږي. ښېکاره مځکه به خرڅه کړم او يا به يې دهقانانو ته په اجاره ورکوم؛مګر هغه ښه مځکه به پخپله وکرم. دوې جوړې غوايي به واخلم او دوه تنه نور کارګران به په کار وګومارم. تقريبا يوسل پنځوس ايکره مځکه به يوې کرم او باقي پاته دي د څارويو د څر لپاره وي.
پاهوم ټوله شپه ويښ وو او، په متيې، د سپيده داغ څخه مخکي پرېشانی يوړ. ايله سترګي يې پټي کړي وې چي يو خوب يې وليدی. ده خوب ليدی چي په همدغه کيږدۍ کي پروت وي او يو سړی له کيږدۍ څخه دباندي له ځان سره خاندي. دی حيران سو چي دا به څوک وي. ولاړ سو او کتل يې چي د باشکيرانو مشر د کيږدۍ مخي ته ناست دی او له خندا پر يوه او بل اړخ اوړي. پاهوم مشر ته ورنيژدې سو او پوښتنه يې ورڅخه وکړه چي پر څشي خاندي؟ مګر دی ګوري چي مشر نسته او د مځکو هغه دلال يې پر ځای ناست دی چي څو ورځي مخکي يې په خپل کور کي ليدلی او د دغو مځکو په باره کي يې معلومات ورکړي ول. پاهوم غوښتل له هغه څخه پوښتنه وکړي چي دلته کله راغلی يې؟ مګر ګوري چي دلال نسته بلکه هغه دهقان دی چي څو کاله مخکي د ده کورته ورغلی وو او د وولګا د سيند پر غاړه يې د مځکو په باب معلومات ورکړي وه. وروسته يې وليدل چي هغه دهقان هم نه دی بلکه شيطان دی چي هم ښونګري لري او هم ښکرونه لري او د کيږدۍ مخي ته ناست دی او په کټ کټ خاندي او مخي ته يې يو سړی دی چي پښې يې لوڅې دي او پرمخې پروت دی؛ يوازي پرتوګ او کميس يې اغوستي دي. پاهوم په دې فکر کي وو چي د شيطان مخي ته دا پروت سړی څوک دی. که ګوري چي هغه سړی مړ دی او هغه پخپله دئ دی. ډېر سخت وبېرېدی او له خوبه را پاڅېدی.
له ځان سره يې ووېل چي سړی په خوب کي هم عجايب شيان ويني.
له کيږدۍ څخه دباندي يې وکتل؛ سپيدې چاودلي وې.
له ځان سره يې ووېل، اوس يې نو بايد را کښېنوم. موږ بايد په کار پيل وکړو.
دی را پاڅېدی. خپل نوکر يې، چي په ګاډۍ کي ويده وو، را ويښ کړ. هغه ته يې ووېل چي ګاډۍ تياره کړي او په باشکيرانو پسي به روان سو.
ده ووېل اوس نو وخت پوره دی بايد چي د مځکي په اندازه کولو پسي روان سم.
باشکيران را پاڅېدل، سره غونډ سول، مشر يې هم راغی. وروسته يې پنير سره وخوړ او پاهوم ته يې هم د چايو ست وکړ مګر هغه نه غوښتل چي نور هم منتظر سي.
ده ووېل که ځو نو ځوبه. دغه يې وخت دی.
۸
باشکيران تيارسول او ټول وخوځېدل. ځيني پر آسونو سپاره سول او ځيني په ګاډيو کي کښېنستل. پاهوم، له خپل نوکر سره، په کوچنی ګاډۍ کي سپور سو او يو بېل يې ورسره واخيست. کله چي دوی هغه ټاکلي ځای ته ورسېدل نو ايله د اسمان کناري سري سوي وې او د لمر خاته وخت وو. دوی يوې غونډۍ ته، چي باشکيرانو شيخان بلله، پورته سول او له آسونو او ګاډيو څخه کښته سول او پر يوه ځای سره غونډ سول. مشر، پاهوم ته راغی او د ميدان خواته يې خپل لاس اوږد کړ.
ده ووېل دا ټوله مځکه چي، ستا سترګي ليدل کوي، زموږ ده. ستا چي هره برخه خوښه وي هغه اخيستلای سې.
د پاهوم سترګي له خوښيه وځلېدې. ټوله داسي مځکه وه چي تر اوسه نه وه کرله سوې او د لاس د اورغوي په څېر هواره وه؛ د کوکنارو د تخم په څېر توره وه او په ځينو ځايونو کي، چي يو څه کښته وه، شنه واښه د سړي تر ځيګره رسېدل.
مشر د کيږدي له پوست څخه جوړه سوې خولۍ پر مځکه کښېښودله او وې ويل: دغه به د پيل ځای وي. له دغه ځايه به روانېږې او بيرته به دغه ځای ته راګرځې. هر څونه چي وګرځېدلې هغه مځکه به ستاوي.
پاهوم خپلي پيسې را وايستلې او د مشر په خولۍ کي يې واچولې. بيا يې نو خپل بالاپوښ وايست او په بې لستونو جاکټ کي پاته سو. کمربند يې پر ملا باندي ښه ټينګ کړ؛ د ډوډۍ يوه وړه کڅوړه يې د جاکټ د مخ په جېب کي واچوله، د اوبو يو لوښی يې په کمربند پوري وتاړه، د موزو تنې يې ټينګي کړلې، له خپل نوکر څخه يې بېل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

واخیست او مزل یې پیل کړ. یو ګړی یې چورت وواهه چې له کومې خوا یې پیل کړي. هره خوا چې یې کتل زړه به یې ورځخه یووړ.
بالاخره یې فیصله وکړه چې مهمه نه ده. زه به د لمرخاته خواته روان سم.
مخ یې ختیځ ته واړاوه. لاسونه او پښې یې سره کش کړل او د لمر ختلو ته منتظر سو.
پاهوم له ځان سره وویل چې وخت باید ضایع نه کړم. ځکه چې لمر لا نه وي تود سوی، قدم وهل یو څه اسانه وي.
لمر لا سم راپورته سوی نه وو چې پاهوم بېل پر اوږه واخیست او له غونډۍ ځخه کښته سو.
پاهوم نه ډېر چټک او نه ډېر کرار روان وو. زر میتره چې ولاړ نو ودرېدی. یو غار یې جوړ کړ او تیري یې ورباندي کښېښودلې چې ښه معلومداره وي. روان سو او چې یو څه یې پښې وغوړېدلې نو قدم یې چټک کړ. پاهوم داسي اټکل وکړ چې دري میله قدم به یې وهلی وي. تودوخه وار په وار زیاتېدله. پاهوم خپل جاکټ وایست، پر اوږو یې واچاوه او تګ ته یې دوام ورکړ. تودوخه نوره هم پسي ډېره سوه. پورته یې لمر ته وکتل. د ډوډۍ د خوړلو وخت وو.
له ځان سره یې وویل چې یوه دوره مې ختمه کړه. مګر زه باید دري څنده نور ولاړ سم. اوس لا د ستنېدلو لپاره بېخي وختي دی. زه مې باید موزې وباسم.
پر مځکه کښېنستی او موزې یې وایستلې او په کمربند پورې یې وتړلې او بیا روان سو. لوڅې پښې تګ یو څه اسانه وو.
پاهوم له ځان سره وویل چې زه باید دري میله نور هم ولاړ سم او بیا نو کیڼ ته تاو سم. دا ډېره ښه مځکه ده او سرې ورځخه تېرېدلای نه سي. دی چې هر څونه مخته تلی، مځکه په هغه اندازه نوره هم ښکلې کېدله.
پاهوم یو څه نور هم مخته ولاړ او کله چې یې شاته وکتل نو غونډۍ ایله ښکارېدله او پر غونډۍ باندي ولاړ کسان داسي ښکارېدله لکه تور میږیان. کله چې یې لمر ته وکتل نو داسي ورته ښکاره سوه چې د لمر سترګه ډېره ځلېدله.
پاهوم له ځان سره وویل چې زه لکه چې پر دې لوري ډېر زیات راغلی یم او اوس باید وګرځم؛ ځکه چې هم مې خولې کړي دي او هم تږی یم.
دی ودرېدی او یو لوی غار یې جوړ کړ او د دېرو کوټه یې وربادي جوړه کړه. د اوبو لوښی یې راخلاص کړ او اوبه یې وچښلې او  کیڼ لورته تاو سو. ښه ډېر مزل یې وکړ، واښه ډېر لوړ وه او تودوخه زیاته سوې وه.
پاهوم ستړی سو. لمر ته یې وکتل؛ غرمه وه. فکر یې وکړ چې زه باید استراحت وکړم.
پاهوم کښېنستی، یو څه ډوډۍ یې وخوړله او یو څه اوبه یې وچښلې، مګر پر مځکه ونه غزېدی ځکه بېرېدی چې که وغزېدی هسې نه چې خوب ور سي. له یو ګړي ناستي وروسته بیرته روان سو. په لومړي سر کې یې ښه اسانه ګامونه پورته کول. ډوډۍ یو څه قوت ورکړی وو؛ مګر تودوخه ډېره بده زیاته سوه او پر ده باندي خوب غلبه وکړه. بیا یې هم تګ ته دوام ورکړ او له ځان سره یې ویل چې یو ساعت پر ځان باندي خواري تېره کړه کړه ټول ژوند به دې آرام وي.
پر دې خوا باندي یې هم ډېر زیات تګ وکړ او چې اوس به نو کیڼې خواته را ګرځېدی  یو ژور ځای یې په نظر ورغی چې ډېر زیات شنه واښه پکښې ولاړ وه. پاهوم فکر وکړ چې دا خو د پرېښودلو ځای نه دی او اوبه مې تر هغه ځایه رسوي. نو دی د هغه ډب خواته ورغی او د هغه پر څنګ یې یو غار جوړ کړ. پاهوم د غونډۍ خواته وکتل. تودوخه ډېره زیاته سوې وه. مځکه داسي ښکارېدله لکه ټوله چې ریږدي او د ګرمۍ له امله په غبار کې د غونډۍ خلک چنداني نه ښکارېدل.
پاهوم له ځان سره فکر وکړ چې پر دې اړخ ډېر زیات تللی دی او باید چې دا برخه یو څه را لنډه کړي. دی پر دې اړخ یو څه مخته ولاړ او چټک ګامونه یې واخیستل. لمر ته یې وکتل؛ لمر د لوېدیځ خواته روان وو. او ده ته د مځکې پر دریم اړخ باندي دوه میله نوره لاره پاته وه، او له خپل هدف ځخه لس میله لیري وو.
ده فکر وکړ چې نه! که څه هم چې د غونډۍ پر لور حرکت به زما د مځکې نقشه خرابه کړي خو باید چې مستقیم حرکت وکړم. نو پاهوم په ډېره چټکۍ یو غار جوړ کړ او د غونډۍ پر لور روان سو.
۹
پاهوم مستقیما د غونډۍ پر لور رهي سو، مګر په مشکله یې ګامونه اخیستل. تودوخي یې کار ورکړی وو. لوڅې پښې یې پر مځکه باندي خوږ سوي او زخمي سوي وې او ورنونو یې چنداني اندیوالي نه ورسره کوله. ده غوښتل چې استراحت وکړي مګر دا ممکنه نه وه ځکه چې دی باید تر لمر لوېدلو مخکې غونډۍ ته ورسېږي. لمر هیڅا ته انتظار نه باسي او هغه وار په وار لوېدلو ته نیژدې کېدی.
ده له ځان سره فکر وکړچې کشکي خو دونه لیري نه وای تللی! اوس مې لکه چې په لوی لاس پر ځان باندي ناوخته کړ.
ده یوځل غونډۍ او یو ځل لمر ته وکتل. له هدف ځخه اوس هم ډېر لیري وو او لمر، لوېدلو ته بېخي نیژدې وو.
پاهوم قدم واهه، د ده لپاره تګ کول ډېر ګران وه مګر بیا یې هم کوښښ کاوه چې چټک ګامونه پورته کړي.
پر ځان یې ډېر زور راووست مګر له ټاکلي ځای ځخه ډېر لیري وو. په ځغاسته یې پیل وکړ او خپل جاکټ یې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وغورځاوه، موزې يې وغورځولې، د اوبو لوښی يې وغورځاوه، خولۍ يې وغورځوله او يوازې بېل ورسره پاته سو چې ده به تکيه پر کوله.
له ځان سره يې فکر وکړ چې زه بايد څه وکړم؟ ما په ډېر حرص هر څه تباه کړل. زه له لمر لوېدلو څخه مخکې ځان غونډۍ ته نه سم رسولای.
دې وېرې يې ساه نوره هم لنډه کړه. پاهوم په ځغاسته روان وو او په خولو کې خيشت کميس او پرتوګ يې ورپورې نښتي وه. خوله يې وچه سوه، او په سينه کې يې داسې دربی وو لکه د ګګر سوټک چې پورته کښته کېږي. زړه يې دربېدی او ورنونه يې داسې سست سول لکه د ده چې نه وي. پاهوم وېرې واخيست، هسې نه چې له تندې او ستړيا څخه مړ سي.
سره له هغه چې له مرګ څخه بېرېدی بيا هم درېدلای نه سوای. ده ويل چې که تر دونه زياتي ځغاستي وروسته اوس ودرېږم نو دوی به مې احمق وبولي. بيا يې هم وځغستل او د باشکيرانو نارې يې واورېدې چې ده ته يې رغونه ورکول او د هغوی نارو يې په زړه کې نوره لمبه هم بله کړه. ده خپل وروستی طاقت سره را غونډ کړ او ويې ځغستل.
لمر لوېدلو ته نيژدې وو او په سره شفق کې داسې ښکارېدی لکه په وينو کې چې غوټه سوی وي. اوس يې نو د لوېدلو وخت وو. لمر ډېر کښته سوی وو مګر پاهوم هم خپل هدف ته نيژدې سوی وو. د غونډۍ پر سر ولاړو خلکو لاسونه ورته ښورول. ده د باشکيرانو د مشر، د ګيدړې د پوستکې، خولۍ ليدله چې پر مځکه پرته او له پيسو ډکه ده. مشر پر مځکه باندې ناست وواو ده ته يې اړخ ورګرځولی وو. پاهوم ته د تيرې شپې خوب ور په ياد سو.
ده فکر وکړ چې مځکه خو ډېره ده؛ مګر خدای به ما پرېږدي چې زه ژوند وربانديې وکړم؟ ما خپل ژوند له لاسه ورکړ، ما ژوند بايلود مګر افسوس! چې هدف ته ونه رسېدم.
پاهوم لمر ته وکتل او هغه مځکې ته رسېدلی وو. يوه څنډه يې د وخته پټه سوې وه. ده په خپل ټول باقي پاته زور سره منډه وکړه خپل بدن يې مخې ته واچاوه مګر ورنونو يې دونه ملګرتوب نه کاوه چې له لوېدلو څخه يې را وګرځوي. پاهوم چې ځان څرنګه غونډۍ ته ورساوه، يو ناڅاپه تياره سوه. ده پورته وکتل؛ لمر د وخته لوېدلی وو.
يوه لويه چيغه يې له خولې ووتله: ټول زحمت مې اوبو يوړ. ده فکر وکړ چې بايد ودرېږي، مګر بيا يې هم د باشکيرانو نارې اورېدلې او فکر يې وکړ چې سره له هغه چې ماته به لمر نه معلومېږي مګر د غونډۍ له سره څخه به ښکاري. ده يوه اوږده ساه واخيستله او د غونډۍ پر لور يې منډه کړه. لمر لا اوس هم ولاړ وو او ده د غونډۍ پر سر د مشر خولۍ وليده. مشر ورته ناست وو، خندل يې او ده ته يې اړخ ور ورګرځولی وو. پاهوم ته بيا هم خپل ليدلی خوب ور په زړه سو اوچيغه يې کړه. ورنونو يې کار پرېښود. دی ولوېدی او لاسونه يې خولۍ ته ورسېده.
مشر وويل اوه! څه زبردسته سړی دی، ډېره زياته مځکه يې تر لاسه کړه.
د پاهوم نوکر په ځغاسته ورته راغی او د راپورته کولو هڅه يې وکړه؛ مګر د هغه له خولې څخه وينې تويېدلې. پاهوم مړ وو!
باشکيرانو ژبې تر غاښو لاندې کړې او د هغه پر مړينه يې خواشيني ښکاره کړه.
د پاهوم نوکر د هغه بېل را واخيست، قبر يې ورته جوړ کړ او پاهوم يې پکښې ښخ کړ. دا د ده له سر څخه تر پښو پورې شپږ فوټه مځکه وه چې ده ضرورت ورته درلود.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ